څېړنوال محمد اصف احمدزی

# استاد رښتین؛ د ادبي راپورتاژ لیکنې سرلاری

# Professor Rishtin; a pioneer in writing literary reports

**Associate Prof. Mohammad Asif Ahmadzai**

## Abstract

In the prose world of Pashto literature, literary reportage is an interesting type of literature that expresses the events of a current, event or journey and the author's feelings and emotions are also involved.

This type of literature has already been promoted in Pashto literature and many literary reports have been written in this language. so far, one of these authors is Professor Sediqullah Reshteen.

He shared with us which trips he had or the important events surrounding culture and literature in the form of reports.

In addition to informing us of the events of his time, he did so, at the same time, by writing such writings, he has enriched the Pashto prose reserve.

## لنډیز

د پښتو نثري ادب په گلبن کې ادبي راپورتاژ په زړه پورې ادبي نوعه ده چې د یوه جریان، پېښې او سفر واقعات په کې داسې بیانیږي چې د لیکوال خپل احساسات او عواطف هم په کې دخیل وي. دا ادبي ډول په پښتو ادب کې له پخوا څخه پالل شوی او تراوسه پورې په کې گڼ شمېر ادبي راپورتاژونه لیکل شوي دي. یو له دغو

لیکوالو څخه پوهاند صدیق الله رښتین دی. ده چې کوم سفرونه کړي او یا هم د فرهنګ او ادب اړوند کوم مهم واقعات پرې تېر شوي، هغه یې د راپورتاژونو په بڼه له موږ سره شریک کړي دي. په دې سره یې نه یواځې د وخت له پېښو موږ خبر کړي یو، بلکې په دې ډول لیکنو سره یې د پښتو نثري زېرمه هم غني کړې ده.

## سریزه

استاد رښتین د دې ترځنګ چې په پښتو ژبه کې مغتنم علمي- څېړنیز آثار لیکلي او موږ ته یې په میراث پرېښي دي، په تخلیقي ادبیاتو کې هم برلاسی و، خاصتاً خوږې هنري لیکنې یې کړې دي چې یو ښه مثال یې د ده ادبي راپورتاژونه دي. د ده په همدې ډول لیکنو په دې مقاله کې بحث شوی دی.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

ادبي راپورتاژونه خپل ځانګړی اهمیت لري، نه یواځې هماغه د لیکلو د وخت خلکو او لوستونکو ته، بلکې راتلونکو نسلونو ته هم د پام وړ ارزښت لري، ځکه په هغو کې د وخت مهم او ناویلي مسایل انعکاس مومي. دا چې د نورو لیکوالو ترځنګ استاد رښتین دغې موضوع ته پام کړی او د خپل وخت ځینې موضوعات یې خوندي کړي دي، نو د هغه دغه لیکنې د پوره اهمیت وړ ګڼل کېږي.

## د څېړنې موخه

د دې لیکنې هدف دا دی چې له یوې خوا لوستونکي د پوهاند رښتین له ادبي راپورتاژونو سره بلد شي او له بل لوري اوسني ځوانان او لیکوالان دا درک کړي چې ادبي راپورتاژ لیکنو ته مخه کړي.

## د څېړنې پوښتنې

۱. ادبي راپورتاژ څه ته وايي؟

۲. د ادبي راپورتاژ لیکنو کې پوهاند رښتین څومره ونډه لري؟

او دې ته ورته ځینو نورو پوښتنو ته هم ځواب وايي.

## د څېړنې میتود

د دې لیکنې مېتود تشریحي- تحلیلي دی.

**د مقالې متن**

په عام ډول راپورتاژ د ژورنالیستي لیکنو یو مهم ژانر دی، خو پر دې سربېره د ادب په نړۍ کې هم "راپورتاژ" شته چې له "ژورنالیستي راپورتاژ" سره یې توپیر په دې کې دی چې په "ادبي راپورتاژ" کې د پېښې یا واقعې تعبیر، تفسیر او تحلیل (تجزیه) په خوږه هنري او ادبي ژبه کېږي.

دا د نثري ادب هغه منلی ژانر دی چې نه یواځې د یوه کنفرانس یا پېښې حالات او واقعات په ادبي او هنري بڼه په کې وړاندې کېږي[1]، بلکې د یوې پېښې یا غونډې جریان، د هغه چاپېریال فضا او داخلي کیفیات یا لیدلي کتلي حالات په داسې بڼه په کې ارایه کېږي چې له پیله تر پایه په کې پر اصلي واقعاتو سربېره د لیکوال جذبات او احساسات هم مل وي[2].

د ادبپوهانو په وینا، په ادبي راپورتاژ کې یو جریان په داسې انداز د لوستونکو مخې ته ایښودل کېږي چې هغه د هماغې پېښې، کنفرانس او غونډې په خوښیو کې ځان شریک وګڼي، لکه داسې چې په خپله یې په کې ګډون کړی وي؛ ډېر هغه شیان چې هلته تېر شوي وي، د لوستونکي مخې ته تېرېږي او دغه ټول بهیر بیا د یوه تاریخي سند په توګه راتلونکو نسلونو ته پاتې کېږي[3]، نو ځکه خو وایو، دا یو داسې ادبي صنف دی چې خارجیت او داخلیت دواړه په کې موجود دي.

په ادبي راپورتاژ کې د یونلیک، لنډې کیسې، ناول، ډرامې، ژوندلیک او ادبي ځان پېښې ځینې ځانګړنې او کیفیات شته؛ خو په پراخه کچه ادبي راپورتاژ یو داسې صنف دی چې ځانته اصول، ځانګړنې او آرونه لري، چې په بل نثري ژانر کې یې ځایول یا بل نوم ورکول ورته ناشوني برېښي، نو ځکه ورته نه یونلیک، نه لنډه کیسه، نه ناول، نه ډرامه، نه ژوندلیک او نه هم خاطره ویلای شو[4].

د نثري ادب دغه زړه راښکونکی، جالب او جاذب ډول د نړۍ د مختلفو ژبو په ادبیاتو کې د یوه په زړه پورې ژانر په توګه مطرح او دود دی.

تر کومه ځایه پورې چې موږ ته معلومه ده، په پښتو ادبیاتو کې د دې ادبي صنف د لیکلو لومړني څرکونه د خوشحال خان خټک په ځینو هغو لیکنو کې تر سترګو کېږي چې افضل خان خټک په تاریخ مرصع کې د ده له بیاضه اقتباس کړي دي؛ خو تر کومه چې خبره د پښتو په اوسني ادب پورې اړه لري، په افغانستان کې یې له

معاصر جوړښت سره سم لومړنۍ بېلګه د عبدالهادي داوي لیکلی ادبي راپورتاژ (کار او مزد) دی چې د اعلیحضرت امان الله د پاچاهۍ په وخت کې یې لیکلی او په پښتونخوا کې یې لومړنۍ نمونه بیا د خان عبدالغفار خان لیکنه ده چې «د شلمې پېړۍ تهذیب او جېلخانې» په نوم یې لیکلې[۵] او تر دې وروسته ګڼو پښتنو لیکوالو د دې ادبي ډول د لیکلو تجربې کړې او د لوستونکو مخې ته یې ایښي دي.

یو له دغو لیکوالو څخه استاد صدیق الله رښتین (۱۲۹۸- ۱۳۷۷هـ. ش) دی چې د څېړنیزو ادبي، ژبنیو او هنري لیکنو ترڅنګ د ځینو هغو سفرونو او غونډو هنري بیان ته یې هم مخه کړې چې ده په خپله ترسره کړي او یا یې په کې ګډون کړی دی. د همدغه ډول پېښو ټول جریانونه یې قلم بندي کړي او په آثارو کې یې د دې نثري ادب غوره بېلګې شته دي. استاد چې د هنري او ادبي لیکنو یو ښه قلموال هم دی، ادبي راپورتاژونه یې په مستقل ډول په کتابي بڼه او یا هم د نورو آثارو په ترڅ او خپرونو کې چاپ شوي دي.

نوموړي په لومړي ځل په ۱۳۲۷هـ. ش کال کې (د پېښور د ادیبانو راتګ کابل ته) په نوم ادبي راپورتاژ کښلی دی. دغه راز په ۱۳۴۲هـ. ش کې هغه مهال چې استاد رښتین له استاد شپون او پوهاند میر حسین شاه سره هند ته د نړۍ د ختیځپوهانو په شپږویشتم کنګره کې برخه اخیستې وه، په اړه یې دوه مختلف ادبي راپورتاژونه "د نړۍ د ختیځپوهانو ۲۶ کانګرس"، "په ډیلي کښې د ختیځپوهانو کانګرس" لیکلي دي. دغه راز په همدې سفر کې یې د هند له ځینو ښارونو او کتابخانو څخه د لیدنې تأثر د ادبي راپورتاژ په قالب کې کښلی دی.

پوهاند رښتین پر پورتنیو ادبي راپورتاژونو سربېره د پښتو د هغه تاریخي سیمینار چې د پښتونخوا په باړه ګلۍ کې جوړ شوی و، راپورتاژ هم په ډېره ښکلې او ادبي ژبه لیکلی چې په کتابي بڼه ځانګړی چاپ شوی او د ډېرو مینه والو له هرکلي سره مخامخ شوی دی.

د دې لیاره چې خبره متمرکزه کړو، لومړی په لاندې کرښو کې د پوهاند رښتین د پورتنیو ادبي راپورتاژونو لنډ جاج اخلو او بیا یې تحلیلوو:

د «ادبي جرګې» اثر چې د پښتو ټولنې له خوا په ۱۳۲۷هـ. ش کال کې چاپ شوی، په کې د استاد بېنوا او ښاغلي سلیمي وردګ د ادبي راپورتاژونو ترڅنګ د

استاد رښتین "د پېښور د ادیبانو راتگ کابل ته" ادبي راپورتاژ هم دی چې زما په نظر په دې برخه کې یې لومړنۍ تجربې له همدغه راپورتاژه پیلېږي.

پوهاند رښتین د دغه ادبي راپورتاژ پیل په دې الفاظو سره کوي:

«زموږ دغه گران مېلمانه او زړه ته راتېر ورونه د پُستې په سرکاري موټر کې چې د دوی لپاره پېښور ته لېږل شوی و، د اسد په ۳۰مه ورځ (۱۳۲۷هـ. ش کال) د افغانستان خاورې ته راننوتل، په جلال آباد کې یې د ښاغلي گل پاچا الفت له خوا ښه هرکلی او استقبال وشو او شپه یې د (سروبي) هوټل ته را ورسوله. سهار د اسد په ۳۱مه، یوولس بجې زه (صدیق الله رښتین)، خادم صاحب او لطیف زاده د دوی مخې ته بگرامیو ته لاړو او په خورا مینه مو د دوی هرکلی وکړ. دوی بیا د کابل هوټل ته چې دلته ورته ډېر ښه ځای تیار شوی و، راوستی شول او د زړونو د محبت دروازې ورته خلاصې شوې....

زموږ دغو گرانو مېلمنو په کابل کې لس ورځې تېرې کړې او سربېره پر جشن یې نور ډېر د لیدو وړ شیان ولیدل....

د رسم گذشت له ختمېدو نه وروسته خپلې دېرې ته ولاړل او هلته به یې همېشه خپل وخت له کوربنو پښتنو سره په خبرو اترو او خوږه مشغولا تېراوه. د دوی لپاره یو ځانله لوی موټر مقرر و، چې سهار او مازیگر به په کې د چمن او نورو باغونو هواخورۍ ته تلل راتلل.

په همدې ورځ مازیگر ټول مېلمانه سره د ښاغلي بېنوا او خادم د بابر باغ ته ولاړل، هلته یې د بابر د قبر، د مرمرو له کاڼو څخه جوړ شوی مسجد او له هغه ځای نه یې د چاردهي د شین ډنډ ننداره وکړه او ماښام واپس خپل هوساینځي ته راغلل[٦]».

له پښتونخوا څخه د راغلو مېلمنو سفر لس ورځې دوام کړی او د هرې ورځې راپورتاژ استاد رښتین په ښکلې ادبي بڼه بیان کړی دی چې د ټولو راوړل یې د مقالې له حوصلې څخه وتلې خبره ده.

که له دغه ادبي راپورتاژ څخه را تېر شو، نو په ۱۳۴۲هـ. ش کال کې استاد رښتین له دوو نورو پوهانو سره هم سفر لرلی او هلته یې د نړۍ د ختیځپوهانو په کنگره کې برخه اخیستې ده، چې دا ټول جریان یې هم په همدغه ادبي صنف کې په ډېره هنرمندانه توگه کښلی دی.

دغه کانگرس چې د ۱۹۶۴م کال (۱۳۴۲هـ. ش) د جنوري مياشتې له ۴-۱۰مې نېټې پورې د نړۍ د ختيځپوهانو په گډون د هند په مرکز ډهلي کې جوړ شوی و، د ټولې نړۍ سترو پوهانو چې شمېر يې ۶۰۰ تنو ته رسېده او د هند ۶۰۰ تنو پوهانو هم په کې برخه اخيستې وه، ډېر په زړه پورې مسايل په کې مطرح شوي چې دغو مسايلو ته استاد رښتين د ليک ژبه ورکړې او "د نړۍ د ختيځپوهانو ۲۶ کانگرس" تر سرليک لاندې يې داسې بيان کړې ده:

«.....د کانگرس رياست د پروفيسور همايون کبير په غاړه و، هره ورځ به د ټولې نړۍ د پوهانو بېل بېل ټولگي د نوې ډيلي په (وگيان بهون) کې سره راغونډېدل او د علم او پوهې رڼا به يې خپروله... ايراني، تاجيکي او افغاني پوهان په يوه څانگه کې ناست وو، په دې څانگه کې د هند ډېر پوهان هم شامل وو. په تېره د هند پارسيانو دغې څانگې ته يو خاص رنگ ورکړی و. په سپينو جامو او سپينو او تورو ږيرو کې د اوستا لوی لوی پوهان، عالمان او ډاکټران هره ورځ د گردو مېزونو تر شا ليدل کېدل او د اوستا گاتونه به يې لکه د حافظانو له يادو ويل.

په دې کانگرس کې هر ډول پوښتنې او څېړنې ازادې وې، هر چا کولای شول چې له هر پوهاند څخه د هغه د کنفرانس په باره کې پوښتنې وکړي يا پرې تنقيد او اعتراض وکړي. ډېر ځله به په کې د پروفيسرانو ترمنځ يوه علمي مباحثه توده شوه او اورېدونکو به ترې پوره خوندونه اخيستل... [۷]».

د استاد په دې راپورتاژ کې داسې انځورونه او صحنې رامخې ته کېږي چې هر لوستونکی په دغه ډول ناستو کې د برخې اخيستو ارمان کوي. که له دې راپورتاژ څخه را تېر شو او د پوهاند رښتين بل راپورتاژ "په ډيلي کښې د ختيځ پوهانو کانگرس" چې د ۱۹۶۴م کال د جنوري په ۱۰مه نېټه د استاد رښتين له خوا د آل انډيا راډيو په پښتو پروگرام کې ويل شوی دی، يوه برخه يې را اخلو:

«په دې کانگرس کې د هند او د ټولې نړۍ دولس سوو نمايندگانو برخه واخيسته او د دنيا له هرې برخې نه ورته ډېر لوی لوی پوهان او اديبان راغلي وو، لکه نوميالی ختيځ پوهاند مارگنستېرن ناروېژی، پروفيسور بادار ډنمارکی او نور. رښتيا خبره دا ده چې د دغه کانگرس دپاره د هند د کلتور د وزارت له خوا نه پوره پوره بندوبس شوی و، يوه هفته پرله پسې هره ورځ به دولس سوه پوهان د وگيان بهون ښکلې او

ښایسته ماڼۍ ته راغونډېدل او په پوره مینه او دلچسپۍ به هر چا د پوهانو او عالمانو له نویو څېړنو او پلټنو څخه بې اندازې خوندونه اخیستل. په دغې ماڼۍ کې د لویې غونډې د هال نه پرته د هرې څانګې دپاره ځانله ځانله ځایونه ټاکل شوي وو چې د هر سرې دپاره په کې د ځانله چوکۍ او میکروفون انتظام شوی و. په دې کانګرس کې د شریکې مینې یوه ډېره خوږه فضا جوړه شوې وه او د هرچا په تندي کې به د خوښۍ او خوشحالۍ پلوشې ځلانده ښکارېدې....

... د منځنۍ ایشیا د آریایي ژبو په څانګه کې د دغې سیمې له پوهانو څخه سربېره د اروپا ډېرو لویو پوهانو هم برخه واخیسته، په تېره د پروفیسور هومباخ الماني کنفرانس د افغانستان د سرخ کوتل د کتیبې په باره کې ډېر خوندور او په زړه پورې و. په دې څانګه کې د اوستا او پهلوي لویو لویو پوهانو د اوستا د ګاتونو په باره کې غوره ویناګانې وکړې او هندي پوهانو د پاړسي ژبې ادب په برخه کې ښه ښه معلومات د هر چا غوږونو ته ورسول. کله کله به په کې د اوستا پوهانو او د ویداد پوهانو ترمنځ د مناظرې یوه خوندوره سلسله هم شروع شوه او د علم او پوهې طاقت به یو بل ته تور برېښنونه هم وکړل....

... د افغانستان په برخه کې چې کوم نوی شی خلکو ته وړاندې شو، هغه د اورمړي ژبې په باره کې د ښاغلي کیفر فرانسوي نوې څېړنې وې. دا څېړنې ښخې په زړه پورې او د اورېدونکو د دلچسپۍ وړ وګرځېدې، بل نوی شی هغه رپورټ و چې د موسیو رادار له خوا په افغانستان کې د آریایي ژبو د اطلس د جوړېدو په باره کې ترتیب شوی و. د دغه رپورټ د اورېدو دپاره یو خاص مجلس جوړ شوی و او ډېر لوی لوی ختیځپوهان یې اورېدو ته راغلي وو..

لنډه دا چې په ډېلي کې د ختیځپوهانو بین المللي کانګرس په هر لحاظ د نورو معلوماتو، خوږو نظریاتو او تازه څېړنو څخه ډک و[۸]».

دغه دواړه پورتني ادبي راپورتاژونه پر یوې موضوع راچورلي او هغه د ختیځپوهانو د شپږویشتم کانګرس جریان دی، چې استاد هر یو له ځانګړې زاویې پیل او پای ته رسولی دی.

که له پورته ادبي فنپارې را تېر شو او د استاد د نورو راپورتاژونو خوږلني او جذابیت وګورو، نو ترې څرګندېږي چې تر پوهاند رښتین وړاندې به ډېرو کمو خلکو داسې ادبي راپورتاژونه لیکلي وي.

استاد رښتین چې کله هند ته تللی، نو له وخت څخه په استفادې یې هندي ښارونه له نږدې کتلي او هم هلته موجودو کتابخانو ته یې سر ورښکاره کړی او ډېر شیان یې په کې لیدلي دي چې موږ ته یې د ادب په چوکاټ کې د ادبي راپورتاژ په بڼه داسې بیانوي:

«د رامپور خلک ځوانان، سپین ږیري، زاړه واړه اوس د اردو د شاعرۍ په رنځ اخته دي. زه د رامپور په درې شپو کې له ډېرو شعرونو اورېدلو څخه تنگ شوم. هره شپه به یوځای کې یوه ډله ځلمیان او سپین ږیري سره راغونډېدل او د مشاعرې بازار به یې توداوه. د دې ځای په اردو شاعرۍ کې جذبه او شوق زیات نښوتی دی او دا ښېگڼه هم یو پښتني رنگ لري. کله چې یو سړی په شعر ویلو لاس پورې کړي، نو درست غوږونه ورته تکې شي او په (وه وه کیا کهتی هین) باندې د جذباتو څپې په غورځنگ راولي.

یوه شپه مو د حمید نومي ځلمي په ځای کې د رامپور د اردو شاعران لکه جلیل نعماني، شمس شاداني، محمد شاه او نور ولیدل. د دوی مشاعره دومره توده وه چې ما هم ورته د کاظم شیدا شعرونه اورول چې یو وخت په (رامپور) کې اوسېدلی دی. بله شپه مونږ (د افکار مشرق) په نامه جوړې شوې اداري ته ولاړو. له واره سره د مشاعرې بازار تود شو، خان غازي چې په دې سفر کې زما ملگری و، په دغو مشاعرو کې لویه برخه اخیسته، ډېر مجلسونه به په ده تودېدل او ده به هم ورته خپل اردو شعرونه اورول. ما دغو ځلمیانو ته وویل چې ډېره شاعري ډېره خواري ده، څه قدر د عمل خواته هم توجه په کار ده، ښایي چې تاسو د خپلو پخوانو مشرانو د تاریخ راغونډولو کوښښ وکړئ چې د راتلونکي نسل د ډاډ سبب شي.

رامپور یو وړوکی مگر ښایسته ښار دی....

د نواب حامد علي خان کلا یا په بله ژبه شاهي ارگ په مغلي ډول جوړه شوې یوه ښکلې ماڼۍ ده چې اوس په دغه ماڼۍ کې یوه لویه کتابخانه ده او د رضا کتابخانې په نامه یادېږي.

د دې کتابخانې په زړه کې دننه د یوې لویې خونې په منځ کې یو څو میزونه او چوکۍ پرتې دي. د دغو میزونو د پاسه همېشه د مطالعې یو څو زاړه کتابونه لاندې باندې ښکاري.

دغلته همېشه یو سکه ناک سړی چې په مخ یې تور او سپین ویښته سره ګډ شوي دي، د کتابونو په کتنه بوخت لیدل کېږي. دغه سړی د رضا کتابخانې واکدار او منتظم مولانا امتیاز علي عرشي نومېږي چې په خټه حاجي خېل یوسفزی دی. د رضا کتابخانه له ډېرو قېمتي نسخو څخه ډکه ده. د پارسی، عربي نایاب کتابونه په کې په ښایسته ښیښو کې دننه د شوق مندانو او ننداره‌چیانو زړونه خوشحالوي. په دې کتابخانه کې د پښتو ژبې ډېرې قېمتي نسخې هم شته چې د خوږمنو پښتنو مشرانو په سپارښتنه په ډېر کړاو، د زړه په وینو لیکل شوې دي. په دغه هره نسخه کې د روهیلکنډ د نوابانو په تېره د حافظ رحمت خان د کورنۍ پښتني مینه او جذبه اوس هم په طلایي اوبو لیکلی او ځلانده ښکاري....

ما په دې کتابخانه کې دوه ورځې له سهار نه تر ماښامه پورې روژه په خوله داسې ناوزګاره تېرې کړې چې سر به مې له کتابه نه شو پورته کولای. خو دومره خوند په کې پروت و چې په ټول هند کې مې بل ځای ونه لید. رښتیا وایي:

پتنګانو لره خدای په اور کې ورکړ

هغه عیش چې یې بلبلې په ګلزار کا[۹]»

استاد بیا د هند د علیګړ پوهنتون ته ورغلی او په اړه یې خپل تأثر داسې بیان کړی دی:

«د علیګړ پوهنتون کتابخانې ته لاړو، هلته مو ټوله ورځ یوازې د میا روښان د (حالنامې) په لیدلو تېره کړه. د حالنامې دغه نسخه په ۵۰۰ مخونو کې په ښه خط لیکلې شوې ده او یوه ډېره قېمتي او نایابه نسخه ده، ما ترې ځینې معلومات رانقل کړل، خو ټوله مې تر پایه ونه کتلای شوه....

مونږ د علیګړ په ښار کې یو لنډ غونډې چکر هم وواهه، ګڼه ګونه په کې ډېره وه، خو څومره چې یې نوم مشهور دی، په هماغه اندازه پاکي او صفایي په کې نه وه[۱۰]».

استاد رښتین په همدې سفر کې د ډیلي موزیم ته هم تللی چې په اړه یې خپل تأثر داسې لیکي:

«کله چې له دغه لنډ سفر نه بېرته ډیلي ته راغلم، نو یوه ورځ د ډیلي ملي موزیم ته ولاړم. د ډیلي په ملي موزیم کې هم د پښتو ځینې قلمي نسخې موجودې دي، دغلته مې هم یوه ورځ د پښتو د قلمي نسخو په کتلو تېره کړه، خو دغه ورځ مې ډېر

کړاو ولید، ځکه چې له یوې خوا روژه وه، له بلې خوا کوټه ډېره سړه وه، له بله پلوه بې نظمي او بې ترتیبي وه، دغلته یو څو تنه کارکوونکي هم وو چې یوه په کې مېړمن وه. د دوی ډېرو خبرو او تودې مرکې زمونږ د فکر د ګډوډېدو سره پوره کومک کاوه، دوی په خپله خوږه مرکه بوخت وو، د ناز خنداګانې یې کولې او زه د پښتو د قلمي نسخو د پاڼو په لټون اخته وم[۱۱]».

پوهاند رښتین په ۱۳۴۴هـ. ش (۱۹۶۵م) کال له څو تنو نورو افغاني پوهانو او لیکوالو سره د پښتونخوا په باره ګلۍ کې د پښتو ژبې او ادب په اړه په جوړ شوي سیمینار کې چې د پښتونخوا زیات شمېر پښتنو لیکوالو او پوهانو په کې برخه درلوده، له ګډون کولو وروسته ادبي راپورتاژ لیکلی او بیا «د پښتو تاریخي سیمینار» په نوم په ۱۹۸۷م کال کې په پېښور کې د یونیورسټي بُک ایجنسۍ له خوا په ۹۲ مخونو کې د چاپ په ګاڼه پسولل شوی دی. دا راپورتاژ د هغه سفر څرګندونه کوي چې پوهاند رښتین له څلورو نورو ملګرو هر یوه مولانا قیام الدین خادم، مولانا محمدشاه ارشاد، استاد عبدالشکور رشاد او نور احمد شاکر سره پېښور ته د پښتو په تاریخي سیمینار کې د ګډون په موخه ترسره کړی و.

استاد د دې ادبي راپورتاژ پیل په دې خوږو الفاظو داسې کړی دی:

«مونږ پنځه تنه ملګري د ۱۳۴۴هـ. ش کال د اسد په دویمه نېټه، په یوه لوی امریکایي جیپ کې مخ په پېښور وخوځېدو. سهار اته بجې خو په کابل کې هوا ډېره ښه وه، ولې د لارې ګرمۍ لا د مخه زمونږ زړونه ورخطا کړي وو. یوولس بجې وې چې د (لته بند) په سر واوښتو، د غرمې تاو او د لارې ګردونو مونږ ته سلا یوه کړه او زموږ په ځورولو یې لاس پورې کړ. دولس بجې (سروبي) ته ورسېدو او له اوبو څښلو نه وروسته مو د جلال آباد لاره ونیوله. له سروبي نه کښته خو له یوه زحمت، یعنې دوړو څخه خلاص شو، خو چې له وریښمین تنګي څخه ووتلو، نو د لغمان په خاوره کې د اوړي د ګرمۍ له سرو لمبو سره مخامخ شو.

زه په منځ سیټ کې له درې تنو سره ناست وم، په اصل کې د درې تنو ځای و او څلورم په کې د بار د پاسه سرباری و. په دغسې حال کې موټر ګړندی روان و او د تود باد (برو) تودې څپې شېبه په شېبه زیاتېدې. له یوې خوا سوځنده تاوجن باد او له بلې خوا تندې او تنګ ځای زمونږ له ناارامۍ سره پوره کومک کاوه. له هر یوه نه

به د خولو لښتي بهېدل، په ټکنده غرمه کې د درونتې له تونل څخه تېر شو، د روانو اوبو او شنو ونو په ليدو مو يو څه قدر لاړې تېرې شوې... (۱۲)».

ښاغلی ليکوال په دې ليکلي ادبي راپورتاژ کې لوستونکی له ځان سره روانوي او له ځان سره يوځای يې مېلمه کوي، پر ليکوال چې کومه خبره يا شی اغېزه پرېباسي، هغه اغېزه پر لوستونکي هم کېږي.

پوهاند رښتين د سيمينار په اړه چې په باره ګلی نومې سيمه کې جوړ شوی و او پوره ۱۹ ورځې يې دوام وکړ، د هرې ورځې د غونډې مختصر- بيان او راپور وړاندې کړی دی. همداراز يې د سيمينار له پای ته رسېدو وروسته د ځينو هغو سيمو او ځايونو يادونه هم کړې چې دوی ورغلي وو، د بېلګې په توګه د عبدالرحمان بابا د مزار د ليدو کيسه داسې کوي:

«په دې ورځ مونږ سهار لومړی د رحمان بابا قبر ته ولاړو. رحمان بابا د پېښور ښار سهيل خوا ته د لويې اديرې په يو جنګی (ګڼې ونې) کې د ارام په خوب ويده دی. د رحمان بابا قبر څو کاله پخوا يو خاورين قبر و؛ خو اوس ډېر ښه جوړ شوی دی. اته کاله پخوا په کابل کې له مرمرو نه جوړ شوی قبر د يوه افغاني هيئت په ذريعه چې زه هم په کې وم، پېښور ته وړل شوی و او بيا د ده د قبر د پاسه ولګولی شو، چارچاپېره ورته ښه کټاره هم جوړه شوه. د رحمان بابا د قبر ترڅنګه د ملنګانو يوه ډېره ده، د جمعې په ورځ په کې د رحمان له رباعياتو سره د رباب خواږه ترنګونه غمجنو زړونو ته يوه روحي غذا ورکوي. مونږ هم هلته يو ساعت د رباب د خوږو نغمو له اورېدلو څخه پوره خوند واخيست او د يوه خوږ اوازي ځلمي له خولې مو د رباب له ترنګها سره د رحمان بابا يو څو غزلې واورېدلې. خدای شته چې دومره اثر او اغېزه تراوسه ما په هېڅ ساز او اواز کې نه وه ليدلې، که ګرمي نه وای او چا پرېښودلای، نو ټوله ورځ به ورته ناست وم.... (۱۳)»

کله چې دا ادبي راپورتاژ څوک لولي، نو له يوې خوا دومره په عام فهمه او زړه راښکونکې ژبه ليکل شوی او ځای ځای په کې له داسې الفاظو او عبارتونو کار اخيستل شوی، چې لوستونکی سترتيا ته نه پرېږدي او له بل لوري د دې ادبي راپورتاژ په لوستلو سره سړی داسې احساسوي، چې په دې سفر کې ده هم ګډون کړی دی.

باید وویل شي، سره له دې چې استاد رښتین په خپله ادبي راپورتاژونه لیکلي، خو داسې هم شوي چې نورو لیکوالو له استاد رښتین سره په تړاو ادبي راپورتاژونه کښلي دي چې یوه غوره بېلګه یې د م.ر. شفق[1]«د رښتین خبرې» په نوم اثر دی چې د ادبي راپورتاژ په بڼه لیکل شوی دی. کله چې استاد رښتین غالباً د ۱۳۵۶هـ ش کال د حمل د میاشتې په وروستیو کې (۱۹۷۷م کال د اپریل په ۱۴مه) د پښتونخوا مردان سیمې ته تللی، نو هلته مېلمه شوی او مجلس ته یې ادبي دوستان هم وربلل شوي او هغوی هم په ورین تندي ورغلي دي.

شفق د دې تاریخي راپورتاژ په یوه برخه کې لیکي:

«لږه شېبه پس د ښاغلي نصیر په ملګرتیا یو درونډ خوږ سړی راغی، میانه قد، کوټلی وجود، مناسب کږه وږه، سپینې چشمې یې لګولې وې، رنګ توربخن، بریت او د سر ویښته سپین، ساده جامې، ساده څپلۍ، قراقلي ټوپۍ په سر او استري کړې څادر یې لکه د ښاغلي محمد نواز خټک په دواړو اوږو پروت وو. دا و قدرمن مېلمه ښاغلی صدیق الله رښتین چې د پښتو ژبې او ادب په میدان کې د اوچت مقام څښتن دی او لکه د ښاغلي عبدالحی حبیبي، ښاغلي قیام الدین خادم او مرحوم ګل بادشاه الفت (ګل پاچا الفت) غونډې د افغانستان د سر سر لیکوالو او پوهانو کې شمېرلی شي چې دې درونډ مېلمه او پښتون لیکوال سره بړه ګړه (د حال احوال پوښتنه) وشوه، نو د چایو دور شروع شو، بیا د مرحوم پیر مبارک شاه روح ته په جمع دعا وشوه او یو بل ځای ته روان شو چې پیر طلا محمد صیب په جمع زړه د خبرو اترو دپاسه خوښ کړی و.

زموږ د ناستې دپاره یوه لویه کمره وه، په فرش باندې ښایسته قالین غوړېدلی و، ګیر چاپېره کرسۍ پرتې وې، ملګرو ووې: هسې هم یوه غونډه کوو، ښه به دا وي چې د صوفو کرسو په ځای په ځمکه کښنو، رښتین صیب وخندل، وې غوره تجویز دی، د پښتنو د جرګو یاد به تازه شي او مونږ پرلتونه ووهل.

زلفې، باڼه، وروځې لبمه پښتانه

ښنګه یو ځای شو پښتانه پښتانه[14]»

[1]. مشتاق الرحمن شفق

دغه راز د پښتونخوا يو بل ليکوال سيد صابر شاه صابر بيا د استاد رښتين د جنازې د مراسمو واقعه «د پوهاند رښتين جنازه» تر سرليک لاندې د ادبي راپورتاژ په قالب کې د هغه په «جنازې» نومي اثر کې خوندي کړې ده، خو دا چې د مقالې له حوصلې څخه وتلې، نو ځکه يې له راوړلو څخه ډډه کوم، خو په انفرادي توگه يې د اثر د لوستلو وړانديز کوم.

## پايله

د نثري ادب د هنري انواعو په بڼ کې د پښتو معاصر ادب سرلاري استاد رښتين له خوا کښل شويو راپورتاژونو څخه جوتېږي چې نوموړي په دې ډول ليکنو کې د داخليت او خارجيت له امتزاج څخه په استفادې، لوستونکی له ځان سره هماغه سفر او علمي ناستې ته بېولی دی. دغه راز يې د عيني شاهد په توگه د خپل وخت او راتلونکو وختونو لپاره د مهمو ادبي ناستو، غونډو، کنفرانسونو، سيمينارونو او سفرونو حالات ثبت کړي او په خپل هنري قلم يې تلپاتې کړي دي. د ده په ادبي راپورتاژونو کې واقعيت، منظر کښنه، لطافت، جذبات او جزئيات ښه ځلېدلي او هم يې ښه او رسا ژبه کارولې چې دا ټول د يوه غوره ادبي راپورتاژ ځانگړنې دي.

د استاد رښتين له پورتنيو ادبي ليکنو څخه دا هم ښکاري چې د ژوند هرې شېبې ته يې ارزښت ورکړی، تل يې قلم په لاس کې دی او هره سړه توده، خوږه او ترخه يې په هنري ژبه خوندي کړې ده. سره له دې چې دغه ليکنې هنري اړخ لري، خو د هغه وخت د علم، څېړنو، فرهنگ او ادبياتو يوه ښه عکاسي يې هم گڼلی شو. پوهاند رښتين په خپلو دغه ډول هنري ليکنو راتلونکو نسلونو ته ور زده کړي اوورته وايي، هغه وخت چې زموږ د تحقيقاتو او ادبياتو په برخه کې څېړنې له سيالانو سره سيالې وې، لامل يې دا و چې دغه ډول علمي محافل موجود و، مباحث او مناقشې په کې کېدې.

تر ټولو مهمه دا ده چې نوموړي په دغو ليکنو سره موږ ته يو تاريخ پرېښی او د ادبي راپورتاژ د منلي ژانر په چوکاټ کې يې رانغاړلی دی.

دا چې د استاد رښتين راپورتاژونه په بېلا بېلو آثارو او خپرونو کې نشر شوي، نو وړانديز کوم، د هغه ټول ليکلي ادبي راپورتاژونه راټول او د يوې مجموعې په بڼه له سره چاپ او خپاره شي، ترڅو اوسني ځوانان او راتلونکي نسلونه يې په اسانۍ پيدا کړي او ادبي تنده پرې ماته کړي.

## مأخذونه


۱) ډاکټر ظهور احمد اعوان، داستان تاريخ راپورتاژنگاري (اردو)، اداره علم و فن پاکستان: پېښور، ۱۹۹۹م کال، ۳٤ مخ.

۲) پورتنی اثر، ۳۷ مخ.

۳) مخکینی اثر، ٤٥ مخ.

٤) محمد اصف احمدزی، په پښتو ادب کې ادبي راپورتاژ، د افغانستان د علومو اکاډمي، شمشاد هاشمي مطبعه: کابل، ۱۳۹٦هـ. ش کال، ۱۱۱مخ.

٥) سید محی الدین هاشمي، د پوهاند صدیق الله رښتین د ادبي- فرهنګي خدمتونو څېړنه او کره کتنه، میهن خپرندویه ټولنه: جلال اباد، ۱۳۹٥هـ ش کال، ۱۳۲مخ.

٦) صدیق الله رښتین، د پېښور د ادیبانو راتګ کابل ته، ادبي جرګې، پښتو ټولنه: کابل، ۱۳۲۷هـ. ش کال، ۱۸، ۱۹ مخونه.

۷) رښتین، د نړۍ د ختیځپوهانو ۲٦ کانګرس، کابل مجله، پښتو ټولنه، کابل: ۱۳٤۲هـ. ش، سلواغه- کب، ۱، ۲، ۳ مخونه.

۸) رښتین، په ډیلي کښې د ختیځ پوهانو کانګرس، کابل مجله، پښتو ټولنه، ۱۳٤۲هـ. ش، سلواغه- کب، ۷۱، ۷۲، ۷۳ مخونه.

۹) رښتین، د هند د ځینو ښارونو او کتابخانو کتنه، کابل مجله، پښتو ټولنه، کابل: ۱۳٤۲هـ. ش، سلواغه- کب، ۸٦- ۸۹ مخونه.

۱۰) پورتنی اثر، ۹۱- ۹۲ مخونه.

۱۱) مخکینی اثر، ۸٦- ۸۸، ۸۹، ۹۱، ۹۲ مخونه.

۱۲) صدیق الله رښتین، د پښتو تاریخي سیمینار، یونیورسټي بک ایجنسی: پېښور، ۱۹۸۷م کال، ۱ مخ.

۱۳) د پښتو تاریخي سیمینار، ۷۸ مخ.

۱٤) م.ر. شفق، د رښتین خبرې (ادبي راپورتاژ)، اولسي ادبي ټولنه (طورو)، مردان، منظور عام پریس، پېښور، ٦- ۷ مخونه. دغه اثر غالباً په ۱۳٥٦هـ ش کې چاپ شوی ځکه د استاد زرغونې زېور په حواله، استاد رښتین په همدې کال مردان ته سفر کړی دی.